# د عبدالرحیم مجذوب د دوو علمي لیکونو تنقیدي جائزه

## A Critical Review of Abdur Rahim Majzoob's Two Academic Writings

Dr. Asal Marjan (Muhib Wazir *

**Abstract**:

Abdur Rahim Majzoob is a renowned Pashtun poet and writer of the 20th century. Where intellectual rarity and diversity are found in his poetry, there are also stylistic colors in it. Although Majzoob has written very short prose, but very well written. Two of his an academic writings have been reviewed in this article. The theme of the first writing (article or essay) is food or an economical issue, while the theme of the second writing (article or essay) is life after death or "Second Birth".

Majzoob has seen and presented these two topics in the light of human civilizations, religions, philosophies and poetic traditions. In this article, these two writings of Majzoob`s have been evaluated.

**Keywords**: Prose, Academic, Food, Life after Death, Civilizations Religions, Diversity.

عبدالرحیم مجذوب (ځوارلسمه جنوري ۱۹۳۵ ـــ ۲۳ اکتوبر ۲۰۲) د شلمې پېړۍ د نیمايي نه راپه دېخوا د پښتو د نوي ادب یوه داسې نامه ده چې د شعر ، نثر او ژباړو په حواله یې نوم په هر حال کښې د یادولو وړ دے۔ د پښتو په شعري ادب کښې د هغوي مقام او لوړتیا د پښتوادب نقادانو له خوا تاکل شوے او منل شوے هم دے ۔ د دوي په نظمیه شاعرۍ کښې د خپلو کلتوري او لهجوي اثراتو تر مخه بې باکي ، رواني او سادګي هم شته او د نوو نړیوالو اثراتو په رڼا کښې ، په فني توګه رومانویت او په فکري حواله دوي ته د بنو (د بنو د زړې جغرافیې تر مخه) یو ازینے ترقي پسند او روښان فکره شاعر وئیل شوي دي (۱) ۔ د دوي په شاعرۍ کښې ذاتي او اجتماعي، هئیتي او فني تجربې هم شته چې که یو خوا د دوي شاعرانه قدوقامت لوړوي نو بل خوا یې شاعرانه حېثیت ممتاز کوي او

* Assistant Professor, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University Charsadda

ځانګړے کوي هم او د دوي په دغه قدوقامت او ځانګړي حېثيت تر څه حده ليکونه شوي دي چې مونږ يې د تکرار نه تېرېږو. ولې بيا هم د ځينو اهمو خبرو ته په اشاره د مجذوب په شاعرانه شخصيت نيغ تېرېدل به هم مناسب نه وي.

نوموړے صوفي شاعر طاهر کلاچوي ، څوک چې د مجذوب هم عصر او د څنګ يار پاتې شوے دے ، مجذوب ته عظيم فنکار يادوي او وايي چې د جدت پسندئ په لړ کښې چې کومه ځانګړتيا مجذوب ته ترلاسه ده ، هغه د بيان محتاجه نه ده (۲) .د نامتو غزل ويونکے شاعر رحمت الله درد يې د انتها تر کچې ذهين ، حساس او ښه لوستے انسان په ټکيو يادوي ، د نظمونو اسلوب ته يې پښتو کښې يوه نوې زياتوونه (اضافه) بولي او د انګرېزئ شاعر جان کيټس په ترڅ کښې يې د پښتو کيټس په نامه راپېژني (۳) .د پښتو د نظم يو بل نوموړے شاعر او سياستدان اجمل خټک بيا داسې يادوي:

> "دا کليات (زيړګلونه) څه دي؟ او دا 'څه دي' او مجذوب صاحب څنګه د خپلې خاورې د وږمو او د خپلې وينې د بوي نه د فن او مرام په ښايسته لمنه کښې د انساني جهان او پښتني دنيا نه په خپل احساس او فکر دا ګلونه مونږ ته وړاندې کوي ، هغه (دا) د هغه حق دے خو زه يې داسې ګڼم چې دا ګلونه د پښتنو د روايتي ، نفسياتي ، کلتوري ، اولسی ادب او ژورې روحي تقاضې علامه ده." (۴)

ډاکټر چراغ حسين شاه يې بيا د جان کيټس سره سره د اردو ژبې دوه نامتو شاعرانو اسرارالحق مجاز او ساحر لدهيانوي سره هم مقايسه کوي او د مجذوب شاعرانه عظمت روښانه کوي (۵) .

اوس راځو او دلته مونږ د هغوي په نثري ليکنو خبره کوو او دا يادوو چې تر دې دمه د مجذوب په نثر باندې به دا اولنئ کوم تنقيدي ليک وي.مونږ چې د نثر خبره کوو نو د مجذوب د نور مظهرونه هم يو ځانګړے اثر زمونږ په ذهن کښې دے ، هغه ټول نثري ليکونه هم زمونږ په پام کښې دي چې د تنقيد ، ديباچو او تبصرو په لړ کښې ليکل شوي دي او په بېلابېلو مجلو کښې چاپ شوي دي او زمونږ ورته رسېدنه ممکن شوې ده . دارنګې د مجذوب تخليقي نثر په خصوص سره افسانه (٦) هم يادول کېږي ، خو لاتراوسه ورته زمونږ لاس رسے ممکن نه دے ګرځېدلے.ولې دلته چې اوس مونږ د کوم قسم نثري

لیکنو د جائزې وړاندې کولو هڅه کوو ، هغه خالص علمي لیکنې چې د کوم صنفي تعین یې مشکل دے یا ورته علمي مضمونونه وئیل کېدے شي چې باقاعده د یوې مفکورې یا فکري پس منظر په اساس لیکلي شوي دي.

- **اول طعام پسه کلام:**

دا د مجذوب یوه علمي لیکنه دے چې د قند مردان د دویم دور په پینځمه ګڼه کښې چاپ شوې ده. دغه لیک کښې په ډېر اختصار سره د انساني تهذیب ارتقایي اشکال او پړاوونه ښودل شوي دي. انسان چې کومې هلې ځلې کړې دي ، کومې اسانتیاوې یې جوړې کړې دي ، کومې رنګینۍ یې چې سازې کړې دي او دا جهان یې چې څومره ښایسته کړے دے ، دا ټول د طعام د پاره یا د طعام نتیجه ده چې انسان د لوږې د جبلت په ترخ کښې دا ټول پرمختګونه کړي. په دغه لیکنه کښې چې کله د لوږې او طعام خبره کوي نو د زمکې او اسمان حېثیت او مقام ډېر په زړه راښکونکي انداز یادوي ، لکه څنګه چې ماشوم د مور نه وزېږي او مور یې خپلو تیانو ته رانژدې کړي او ماشوم ته پۍ ورکول شروع کړي. دغه رنګ په جهان کښې موجود د ټولو ژیژونو مور هم دا زمکه ده ، که دا مور خفه شي یا ورکه شي یا ډوبه شي یا واوړي یا اور وراندې بل شي نو خپلو بچیانو (ژیژونو) ته به پۍ ورنۀ کړي. تخمونه به چرته هم زرغون نۀ کړي او غله به ناپېد شي. دغه د خېټې اور وۀ چې انسان مجبوره شو او په خپل تصور کښې یې زمکې لکه د ښځې وجود ورکړو چې پۀ ترخ کښې یې ماشوم نیولے وي او دا هر څه د زړو تهذیبونو په فنپارو کښې جوت ښکاري. خو چې کله انسان په دې وپوهېدو چې زمکه هم په یوازې سر د هر څۀ د پاره کافي نۀ ده. کرکرونده که هر څو پۀ زمکه کېدله خو چې بارانونه به نۀ وو نو فصلونه نۀ کېدل چې تالابونه به وچ شول نو انسانانو ، څناورو او مارغانو به د څښلو اوبۀ نۀ موندلې. دلته به انسان بیا مجبوره شو چې یوازې زمکه خو هم نۀ ده چې بچیان (ژیژونه) پیدا کوي. دې کښې د اسمان هم پوره پوره برخه ده نو اسمان ته یې د پلار حېثیت ورکړو ځکه چې بارانونه خو د اسمان نه لوریه راځي (۷).

دا رنګې چې کله به ګرمي شوه ، د دوي بدنونه به سوځېدل او هم به د زمکې بچیان (ونې بوټي فصلونه) هم سوځېدل ، نو هر کله چې د تجربې په بنیاد دوي ته ادراک وشو چې دا خو

هر څه د نمر نه کېږي ، نو دوي به د نمر خوشامندې کولې او دوي به کوشش کولو چې نمر خوشحال وساتي چې د زمکې په بچيانو رحم وکړي او د دوي فصلونه وشي ، دوي ته غله پېدا شي او د خېټې يا طعام طريقه يې جوړه شي ـ مجذوب دلته د اريايي ويدونو نه د دارنګې خوشامندو يوه ټکړه نقل کړې ده:

نمره! مونږه تا ته وايو دا سندرې
ستا لينده چې غشي ولي لرې لرې
تهٔ پهٔ هره معرکې کښې يې کاميابه
تهٔ لا هيڅا لاندې نهٔ کړلې افتابه
تهٔ د هيڅا پروا نهٔ کړې زوروَر يې
تهٔ قادر يې تهٔ مالک د بحر و بر يې
تهٔ سردار يې د همهٔ موجوداتو
نګهبان يې د دې ټولو مخلوقاتو
تـهٔ له هرې بدۍ مونږ ژغوره پهره کړه
موږ سره لکه د خپلو ګزاره کړه

(۸)

دغه رنګه هم دغه ليک کښې مجذوب وړاندې د بيا د بادشاهتونو قايمول او د بادشاهتونو ته په ضد کښې د باغيانو پېدا کېدلو تاريخي تناظر وړاندې کوي او دې هر څه ته د خېټې يا طعام په رڼا کښې ګوري ـ په زوړ بابلي تهذيب کښې د فرعون پېدا کېدل او فرعون ته بيا د موسی عليه السلام اودرېدلو په شا فلسفه هم په بنيادي طورد لوږې تصور ګڼي ، د من و سلوی او بيا د بني اسرائيلو د پخو بټېرو نه د انکار فلسفه هم د دوي د خېټو هوس ګڼي چې په يو رنګ خوراک کښې يې د خېټې اور نه مړ کېدو (۹) ـ
د لـوږې او خېټـې د اور مړکولـو پـه تـرڅ کښـې د انسـاني تهـذيب پـه ارتقـاء کښـې چـې کومومفکرينـو ، پېغمبرانـو او وليـانو د صـبر او قناعـت او د روحـاني غـذا وعظونـه او نصيحتونه او درسونه ورکړي دي ، د هغو نه يې د يو څو ذکرونه پـه اختصـار سـره کـړي دي خو په دې نتيجه رسېدلے دے چې په فاقه کشۍ ، په چېلاکشۍ ، په روحاني غذا ، پـه صبر

باندې دا نظام چلېدونکے نۀ دے ـ د خېټې اور خامخا طعام غواړي او دا اور تش په خوراک مړ کېدے شي ځکه خو مجذوب د مذهبونو په حقله د خپلې مطالعې په نچوړ کښې وايي

پۀ اسلام کښې مالِ انفعال خمس ، بيت المال ، زکات ، عشر ، سرسايه ، خېرات داټول د انسان د خېټې بندوبست دے ـ دا ځنې ذکر شوې ادارې او ټېکسونه خو هغه دي چې بلاواسطه تاکيد شوي دي ـ اسلام بلواسطه هم خېټه هېره کړې نۀ ده ـ غلام سره نېک سلوک خېټه ده ـ حق مهر ، نان نفقه ، وراثت او پۀ وراثت کښې د نزدې او لرې خپلو خپلوانو حصه خېټه ده ـ د کونډې د يتيم پالنه د ځان او مال سربراهي څۀ شے دے؟ خېټه ده ـ (۱۰)

د دغه ليک په اخر کښې د مجذوب د سوشلزم او کميونزم د معاشي فلسفې ته مکمل د اسلام د معاشي نظام په تناظر کښې کتلي دي او د دواړو تر منځه اشتراکات يې په ګوته کړي دي ـ د دغه ليک انداز ته چې ګورو نو د اسلوب تر مخه مکمل رومانوي انداز لري ـ د تهذيب دا خشکه سپوره قيصه يې دومره په خوږه او دلچسپه سليقه وړاندې کړې ده چې دا يوه رومانوي قيصه لګي ، نۀ چې کومه علمي څېړنه ، خو د فکر په لحاظ بيا دا ليکنه د ترقي پسند فکر يوه په زړۀ پورې نمونه ده او دا د مجذوب د شعري او نثري ليکنو ځانګړتيا ده چې ترقي پسند فکر د رومانويت په خوږ اسلوب کښې وړاندې کوي ـ

- **پس د مرګه.....**

دا يوه بله علمي ليکنه ده چې د دويم ژوند په اړه د بېلابېلو تهذيبونو ، مذهبونو او فلسفو کښې د موجودو تصوراتو او افکارو مطالعه وړاندې کوي ـ دا ليکنه پښتو مجله (جلد ۷ ، شماره ۱۱ ، دسمبر **۱۹۷۵**) کښې چاپ شوې ده ـ د دغه ليکنې ابتداء يې د دغه شعر نه کړې ده:

له دې ملکه ببرته څوک نه دي راغلي
چې ترې وپوښتمه ستا د کور او کلي
(۱۱)

تر ټولو د مخه يې بهګوت ګيتا کښې د نېکۍ په تصور او د اواګون په فلسفه رڼا اچولې ده او د هندوانو د دويم جنم د تذکرې په لړ کښې يې د سري کرشن دا مکالمه چې ارجنا ته يې

وئيلې وه، راوړې ده ,, ست (شته) به است (نشته) نشي او نهٔ مرګے څوک فنا کولے شي ، لکه پهٔ دې ژوند کښې چې انسان ماشوم وي بيا ځوان شي او بيا بوډا شي ـ دغه شان روح پس د مرګه بله جامه واغوندي بيا زرغون شي ـ هوښياران پهٔ ظاهري ژوند او مرګ نهٔ خطا کېږي ،، (۱۲) ـ

ورپسې يې د زوړ مصر د تهذيب مطالعې په اوان کښې د فرعونانو ذکر کړے دے ـ په هغه وخت کښې هم داسې منترونه او مکالمات راټول کړې شوي وو چې د مرګ نه پس ته ژوند د کشالو پحقله وو ـ دا منترونه باقاعده په يو کتابي صورت کښې هم شته چې ,,د مړو کتاب،، پهٔ نوم يادېږي ـ دغه کتاب کښې هغه سوالونه او د هغې جوابونه هم دي چې د دوي په خيال به د مرګ نه پس له مړو پوښتل کېدل ـ دوي په خيال پهٔ عالم برزخ کښې به اينوبِس (Anubis)نومې دېوتا ولاړ وهٔ او د مړو نه به يې د سوالونو جوابونه غوښتل (۱۳) ـ دا په قديم مصري تهذيب کښې د مرګ دېوتا ګڼل کېدو او د روحونو په اړه به يې فېصلې کولې ـ

د يوناني تهذيب په حواله اول د هغه اساطيري قصيو په رڼا کښې وړاندې کوي چې د دويم ژوند تصور پکښې دومره پورې موجود ښيئي چې مرګ نه پس د روحونو يو خپل مقام وي ، هلته لاړ شي او په يوه بندي خانه کښې بند وي ـ دغو اساطيرو کښې به دا خبره هم وه چې د ښځو سړو روحونه به بېل بېل ځاے کښې جمع کېدل او په دغو قيصو کښې به هيرو او هيروئن د خپلو روحونو د يو ځاے کېدو دعاګانې او ارزوګانې وړاندې کولې (۱۴) د مجذوب په دغه ليکنه کښې د يوناني تهذيب د مطالعې په ترڅ کښې د هومر (Homer) (نهمه/اتمه پېړۍ ق م) د شاعرۍ او د دوي د شاهکار داستان ,,اوډېسي،، يادونه هم کړې ده ـ وئيل کېږي چې هومره په سترګو ړوند وهٔ او هومروس معنا هم په يونانۍ کښې د ړوند ده (۱۵) ـ داستان کښې ښودل ښودل شوي دي چې اوډېسي څنګه د جادوګرې ښاپېرۍ په وېنا يو لرې ځاے ته ورسي او هلته يو غار وکني ، د غار نه لوے ډېر روحونه راووځي او اوډېسي بيا د هغو روحونو نه د تېرې زمانې حالات او قيصې پوښتي ـ هومر د شاعرانه کشف په وسيله د يو روح فرياد وړاندې کړے دے چې مجذوب داسې ژباړلے دے:

هــاى تــهٔ ګــوره د قسـمـت کـارونه
هغــه د پلــوټو څـو سپېرهٔ بيجـونه
چــې دې دنيا ته مــې راوړي نهٔ وے

ګوندې دا رنګ راباندې شوي نۀ وے

(۱۲)

د شاعرۍ په ضمن کښې يې په دغه ليکنه کښې د دانتې الېګېري (Dante Alighieri) (۱۲۶۵/۱۳۲۱) د خداوند (Divine) نومې نظم ذکر هم راوړے دے ، په دانتې د اسلامي تصوراتو اثرات جوت برېښي ځکه چې په دغه وخت کښې د ابن رشد او ابن سينا افکار د يورپ اوسېدونکيو ته رسېدلي وو ، بل د ابن عربي فتح مکيه، ، نومې کتاب کښې دا د روحونو تذکرې موجودې دي او دانتې چې د فلسفې زده کونکے وۀ نو د دغو اسلامي افکارو نه به اورمرو خبر وۀ (۱۷) ـ مجذوب د ډيوائن د نورو ډېرو خوبيو تر څنګ پکښې د دويم ژوند درې مقامات ياد کړي ـ اول برزخ دے چې ګناهګار روحونه ورځي ، دويم يو بل مقام چرته چې روحونه پاک شي او دريم نجات (يعني د جنت تصور) (۱۸) ، کوم چې د اسلامي تصور سره ډېر نزدې والے لري ـ
مجذوب چې مطالعه يې هر اړخيزه ده ځکه يې په يوناني او رومي فلسفه کښې د دويم ژوند ذکر ته هم کتنه کړې ده ـ سقراط مرګ يو اميد ګڼي ، روح ته د يو ځاے نه بل ځاے ته د انتقال په نظر ګوري او ګڼي چې روح به هلته خوشحاله وي (۱۹) ـ د مرګ نه پس روحونه په خوارۀ خوب اودۀ شي او روحونه په سترګو نه ليدل کېږي يا په يوناني فلسفه کښې دا هم وئيل کېږي چې اسمان د دېوتاګانو کور دے او هغه روحونه چې د دېوتاګانو خوښ دي ، هم ځان سره اسمان ته وړي (۲۰) ـ
د دويم ژوند په اړه د عيسائيت مطالعه او تصور خو لکه ښکاره خبره ده چې ډېر واضح دے ، هغه وخت د بني اسرائيلو مذهب منونکيو هسې په نوم خو مذهب لرلو ولې د مذهب فلسفه يې هېره کړې وه او د مذهب په ځاے د فلسفې ادراکاتو ته به د مذهب رنګ ورکول کېدو ، نو ځکه د عيسائيت په تعليماتو کښې د نورو ډېرو څيزونو سره د دويم ژوند او د روحونو په اړه هم يو واضح پېغام موجود وو ـ
خو د اسلام د راتګ سره بيا د دويم ژوند مسئله ښځي ډېره په زور کښې راغله چې د دې موجوده ژوند د ګړۍ ګړۍ حساب کتاب يې ورسره وتړلو او د جزا او سزا يو داسې تصور يې وړاندې کړو چې د خېر او شر د تصور مکمل شعور يې انسان ته ورسولو او دويم ژوند يې د ايمان برخه يا جز وګرځولو ـ پۀ کلامِ پاک کښې د ثواب عذاب خبره ، د اخرت ذکر ،

حساب کتاب خبرې دا ټول د دویم ژوند خبرې دي .دغه شان ځنې اشارات او تلمیحات لکه د کوه طور په لمنې کښې د موسی سره څلوېښتو کسانو مړۀ کېدل یا د اصحاب کهف خبره د ختې د اوبو نه ژوند پیدا کولو ذکر د دویم ژوند مثالونه دي او که د خدا ے پاک کلام کښې د دې جهان د ژوند د لېن دېن احکام بېل کړے شي ، نو پاتې ټول ذکر پکښې د دویم ژوند د سفر د تیارۍ د ے (۲۱).

که مونږ وګورو چې په دغه لیک کښې یې د دویم ژوند کوم تصور د ے ، هغه یې د مذهبونو ، فلسفو او شاعرۍ له پلوه کتلے د ے او دا پېغام او فلسفه یې پکښې راوړې ده چې انسان په هېڅ صورت د دویم ژوند د تصور نه ځان خلاص کړے نۀ د ے .ځکه چې انسان ته عقل ودیعت شوے د ے او غور کوي سوچ کوي او یوې کوټلې نتیجې ته ځان رسوي .د مجذوب د دغه لیک نه هم دا نتیجه اخذ کېد ے شي.

عبدالرحیم مجذوب د یو وېښ او بېدار ذهن خاوند د ے .هغۀ مدام غور کړے د ے او تصور یې کړے د ے او په دغه تصوراتو کښې یې د انساني تهذیبونو مدارجو ته کتلي دي او په هغې کښې بیا موجودو مطالعاتو نه اخذ کړے د ے او د هغې په اساس یې بیا خپلو لوستونکیو ته نتیجې ورکړې دي.

## حوالې

1. ایوب صابر ، جدید پشتو ادب ، متحده عرب امارات ، د اماراتو پښتو ادبي ټولنه ، بار سوم ۲۰۱۲، ص: ، ۲۱۲
2. طاهرکلاچوي ، عظیم فنکار (مقدمه) ، مشموله: زيړګلونه ، پېښور ، شاهین پرېس ، فروري ۱۹۷۵ ، مخ:۱۱
3. درد ، رحمت الله ، مجذوب د پښتو کیټس (سریزه) ، مشموله: زيړګلونه ، مخ:۱۷
4. اجمل ختټک ، زيړګلونه ـــ د پسرلي زېړے (مقدمه) ، مشموله:د مجذوب کلیات (اوله برخه) ، بنو ښار، پرمختګ ، جنوري ۲۰۱۳ء ، مخ:۴
5. حسېن شاه ، چراغ ، ډاکټر ، د پښتو کیټس (سریزه) ، مشموله: زيړګلونه ، مخ:۲۴
6. جدید پشتو ادب ، ص: ، ۲۱۲
7. مجذوب ، عبدالرحیم ، اول طعام پسه کلام ، مشموله: قند ، مدیر: قمر راهي ، مردان ، دویم دور ، شماره ۵ ، مخونه: ۷۰ـ۷۱
8. هم دغه ، مخ: ۷۱
9. هم دغه ، مخونه: ۷۳ـ۷۴
10. هم دغه ، مخ: ۷۷
11. مجذوب ، عبدالرحیم ، پس د مرګه ـ ـ ـ ـ ـ ـ ، مشموله:پښتو ، پېښور ، پښتو اکېډېمي ، پېښور پوهنتون ، دسمبر ۱۹۷۵، مخ: ۳۲
12. هم دغه ، مخ: ۳۳
13. هم دغه ، مخ: ۳۴
14. هم دغه ، مخ: ۳۶
15. مستحسن ، ناصر ، ډاکټر، هومر کون؟ ،کراچي ، ایکسپرېس نیوز ، جمعه ۵ جولایي ۲۰۱۳ء
16. پس د مرګه...... ، مشموله:پښتو ، مخونه: ۳۷ـ۳۸
17. رمضان طاهر ، ډاکټر ، اقبال اور دانتے ، مشموله: هم سب ، مدیر اعلی وجاهت مسعود ، بلاګ ګوشه ادب ، تاریخ اشاعت: ۲۰۲۰/۰۹/۲۹ ، humsub.com.pk/

18. پس د مرګه...... ، مشموله:پښتو ، مخ: **۳۷**
19. علي ، عبدالله ، فلسفه سقراط اور علم کا حصول ، پنجند.کام ، تاریخ اشاعت: دسمبر **۲۰۲۱**ء :Punjund.com.fal
20. پس د مرګه...... ، مشموله:پښتو ، مخ: **۳۸**
21. هم دغه ، مخ: **۴۱**